لیکوال: سرلوخ مرادزی نیټه ۲۶-۰۳-۲۰۱۱

ښاغلی کاویاني: افغانستان فارسي ژبی هېواد نه دی!

نجم الدین کاویاني [۱] چې پخوايي خپل نوم بشپړ لیکه او اوس په لیکنو کې خپل نوم یوازې **نجم** کاویاني لیکي او د **الدین** له مرستاړي څخه یې صرف نظر کړی خپله روستۍ لیکنه کې چې د خاوران په ایران پلوه او سیکتاریسي بریښناپانه کې د وري میاشتي په لومړۍ نېټه خپره شوې، د نورو تنګنظرو سیکتاریستو په پلوۍ په ټینګار وايي چې افغانستان یو فارسي ژبی هېواد دی. نوموړی غواړي په دې جمله «نهادهای فرهنگی در میان کشورهای منطقه **از جمله میان سه کشور فارسی زبان** همراه با پیش‌کش کردن جایزه‌های نوروزی» افغانان معتاد کړي او داسي وځلوي چې دا خبرې منل شوي حقایق دي او د نورو لخوا په لیکل شوي تقدیر کې ګوتې وهل او خبرې کول د بېلتون او اختلافاتو اور ته لمن وهل دي.

دا چې افغانستان **از جمله میان سه کشور فارسی زبان** په پلپسي ډول، په هر مناسبت او د هر تنګنظري له خولې راوځي، د هغې لويي سناریو سرلیک دی چې شا ته یې د مداریانو په پیټار کې یوه نړۍ چلوتې، توطیې او ویجاړۍ د بلې ورځې لپاره چمتو پرتې دي.

د رسنیو په بازار د **سه کشور فارسي زبان** ډرامه د اسلامي جمعیت د مشر رباني په خوله ورګډه شوه. البته د دې خبرې مانا دا نه ده چې ګوندې د دې مفکوري خاوندان یوازې رباني، جمعیت او نظارشورا دي، بلکې د دې مفکورې اصلي انځورګران ستمیان، د کاویاني او شریکبانو ډله او د هېواد په شمال کې د جهادي ـ سیکتاریستي مافیايي کړیو ګډوله ده چې په ګډه هغه قرصک کې ناڅې چې د بوللې کمپوزیتور یې ایران دی. د اصلي چلوتو او کړنلارو د ترتیب او سمون پټغالی په تهران او قم کې دی، خو دا اجراګان یې دلته په پټو سترګو د منلو او پلې کولو لپاره ژمن دي.

همدا کړۍ وې چې په ګډه یې په ۹۰ یمو کلونو کې کورنۍ جګړه پیل کړه. د افغانستان اردو او اداره یې له منځه یووړه. کابلښار یې لوټې لوټې کړ او په لسګونو زره کابلیان او نور هېوادوال یې ووژل. د دې جګړې د پیل اصلي لاملان چې د شمالتلوالي نور لنډه غر یې پر محور راټول شوي، همدغه څو تنه خفاشان دي چې تر اوسه چیرې په څمڅو کې پټ وو او نن بیا د بل شرارت، بېلتون او نفاق لپاره قلم په لاس شوي او د نوي بغاوت او اړودوړ لپاره لارې کوڅې لټوي.

دلته بیا هم د بل هر مناسبت پشان د ۱۳۹۰ کال پیل ورځ د همداسې تورو او شومو موخو لپاره کاریږي. د نوي کال ورځ چې د ټولو اریایانو لپاره که نن هر چیرې مېشت دي یوه خوښیځه او دودیځه ده، خو تنګنظري غواړي چې له دې ورځې څخه د بېلتانه د چړې پټوګه کار واخلي.

د تنګنظرو بله ډله هم چې د نوي کال د پیل په تړاو یې د عربانو په زړه او دماغ برابر زهر وپاشل ، د ایران پلوو پشان د افغانانو او ددې سیمې د وګړو خوښي د شک په سترګه ګوري. دوی ته د افغانانو او سیمې دودونه چې د عربو په بازار برابر نه دي کفر ښکاري . په داسي حال کې چې افغانانو له عربو څخه یوازې د اسلام سپېڅلې دین راخېستی او افغانان ځانته خپله ژبه، کلتور، تاریخ ، هېواد او ملي پېژند ګلو لري .

د افغانستان د اساسي قانون په ۱۶ مه ماده کې ویل کیږي «د پښتو، دري، اوزبکي، ترکمني، بلوڅي، پشه یي، نورستاني او په هېواد کې د نورو مروجو ژبو له جملې څخه پښتو او دري د دولت رسمي ژبې دي.» همدارنګه ددې اساسي قانون په ۲۰ ماده کې راغلي دي « د افغانستان ملي سرود په پښتو ژبه دی.»

که کاویاني او شریکباني یې ځان افغانان بولي او د افغانستان اساسي قانون ته چې لویې جرګې تصویب کړی ځانونه ژمن بولي، نوبیا خبره ښکاره ده چې ملي ژبه پښتو او د دولت په رسمیاتو کې له پښتو سره دري هم ورغاړې ده. افغانستان هیڅکله هم فارسي ژبی هېواد نه و. ژبه د ولسونو ده او په ولسي کچه پښتو د اکثریت افغانانو ژبه ده. دا منم چې دولت او اداره کې پخوا هم فارسي وه او اوس هم فارسي ده او د کرزي په ګډون د دولت لوړپوړي چارواکي د کاویاني او شریکبانو پشان په دې برخه کې اساسي قانون ته ژمن نه دي او هغه تر پښو لاندې کوي خو دا خبره د دولت په برخه کې ده ، افغان هېواد او افغان ملت هیڅکله هم ځانته فارسي ژبی هېواد او فارسي ژبی ملت نه دی وییلای !

که کاویاني او شریکباني یې ووایي چې فارسي د کرزي د جهادي ـ مافیايي او د شمالتلوالي د دولت ژبه ده او په دې توګه ایران، تاجیکستان او د افغانستان دولتونه دریواړه (نه د افغانستان هېواد او نه افغان ملت) فارسي ژبي دي تر یوه بریده یې خبره بېځایه نه ده، خو دا خبره چې وایی **سه کشور فارسي زبان** ځکه سمه نه ده چې یوازې د افغانستان دولت فارسي ویونکی او فارسي ته ژمن پاتې شوی، نه د افغانانو هېواد او نه افغان ملت!

هېواد او ملت یو مفهوم دی، حکومت او دولت جلا مفهوم.

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په نړۍ کې ډېر دا سې ولسونه شته چې ولسي ژبې يې دولتي او رسمي ژبې نه دي پاتې شوي. دا د استعمار ميراث دی چې د دولت ژبه دې يو څه او د ملت ژبه دې بل شان وي. فارسي يو مهال په افغانستان، هند او سيمه کې د حکومتونه ژبه وه خو په سيمه کې له تاجيکو او فارسيانو پرته د نورو قومونو ژبه نه وه او نه ده، دا ولسونه هر يو ځانته خپله قومي ژبه لري.

موږ نن په ۲۱ مه پيړۍ کې ژوند کوو، د سياسي او فرهنګي استعمار ټولې بڼې ناچله او له دوده لويدلې دي. فارسي کېدای شي تاجيکستان کې هم ولسي او هم دولتي ژبه وي، ځکه تاجيکستان کې تاجيکان اکثريت دي. فارسي ايران کې هم د اکثريت ژبه نه ده. ايران کې هغه کسان چې فارسي يې قومي ژبه ده د هغه هېواد د نفوسو ۴۰ په سلو کې جوړوي او په سلو کې ۶۰ نور ولسونه لکه بلوڅان، کردان، اذربايجانيان او نور ځانته خپلې قومي ژبې لري. دا قومونه سره له دې چې فارسي ژبه د دولتي او رسمي ژبې پتوګه مني خو خپلو سيمو کې پخپلو ولسي ژبو د لوست او زده کړې له حق څخه محروم ساتل شوي دي.

خو افغانستان کې خبره په بشپړه توګه بل ډول ده. دلته تاجيکان او هزاره ګان چې فارسي يې قومي ژبه ده د افغاني ټولنې د نفوسو يوازې ۲۰ په سلو کې جوړوي. پښتانه د افغانستان لوی قوم دی او په يوازې ځان دهېواد د نفوسو په سلو کې له ۶۰ زيات جوړوي. نور لږکي هم چې په ازبکي، بلوڅي، پشه يي، نورستاني او په نورو ژبو غږيږي پاتې سلمه بشپړوي. د افغانستان په اساسي قانون کې هم پښتو د لومړۍ ژبې پتوګه تسجيل ده او د لږکيو ژبو ته هم په قانون کې حق ورکړل شوی خو په عمل کې بيا خبره بل ډول ده. دولت د اساسي قانون په خلاف پښتو د لومړۍ ژبې پتوګه په اداره او دولت کې نه دودوي او د پښتو ځای يې هم فارسي ته ورپريښی دی، په همدې لامل کاوياني خپل افغان دولت فارسي ژبی اعلانوي. پښتو ژبې سره د افغان دولت د ميرۍ مور چلند او خپله د پښتنو غفلت فارسي ژبې زړور کړی چې پر هرڅه منګولې ښخې کړي او دعوه وکړي چې پخوا هم دولتونو يوازې فارسي چلوله او دا دود بايد همداسې پاتې شي او څوک چې يې د بدلون هڅه کوي د دوی پر وړاندې د نيوکې او ګواښ لاندې راځی. د بدلون په پلويانو دوی راز راز تورونه تپي . کله ورته فاشيستان وايي، کله ورته تماميت خوا وايي او نوې خبره يې دا پيداکړې چې دا کسان د پاکستان جاسوسان دي نور او نور.

بلخوا دغو کسانو ته په بدمستۍ او ليونتوب کې توښه او تودوخه ايران او نور وراچوي. ليکنې او څېړنې ورته ايرانيان کوي، دوی يې يوازې پخپلو نومونو خپروي. کړنلار او ستراتيژی د بل چا ده، خو دوی يې په ړندو سترګو مني او پلې کوي يې.

مذهبي توندلارې او دا سيکټاريستي توندلارې چې بېلا بېل لښتي دي په يوه بياله کې سره يوځای کيږي او دواړه د هېواد او افغانانو جړې باسي.

دلته غواړم يوه بله خبره راواخلم او هغه دا کله چې په پښتو ژبه او زموږ په ملي حريم شرمښان او دنورو بړيڅان تېری کوي د پښتنو يو زيات شمېر پروفيسوران، څېړنوالان، پوهندان، ډاکټران او نور چوپه خوله ناست وي او په دغسې شيبو کې د ملي حريم د ملاتړ چارې د پښتنو تنکيو او احساساتي ځوانانوته سپاري او خپله له ډګر څخه تښتي!

ايا دا لويه بې ننګي نه ده؟

اور دې پر داسې پروفيسورۍ، پوهاندۍ، ډاکټرۍ او څېړنوالۍ شي چې هغه د خپلې ژبې، خپل تاريخ او خپل هويت په ملاتړ کې په کار رانه شي!

خوشحال بابا وائی : په داهسې وخت چې ځای د نام او ننګ دی ******* دا بې ننګه پښتانه کا څه رفتار

بلخوا څنګه چې ټول ګاونډي هېوادونه او نړيوال په خپلو هېوادو کې خپلې ملي ژبې کاروي افغانان ولې خپل هېواد کې پښتو د ملي او سراسري ژبې پتوګه ونه کاروي؟

د افغان ملت هويت په ملي ژبې پښتو سره کيږي.

فارسي د تاجيکستان او ايران د هويت لپاره ښه ښکاري. البته په هېواد کې د نورو لږکيو ايتنيکي ګروپونو د ژبو حق په خپلو خپلو سيمو کې خوندي دی خو د پښتو ژبې حق به د ملي او سراسري ژبې پتوګه، د افغان ملت د ټولو اتباعو لپاره اجباري وي.

څرګندونې :

(۱) نجم الدين کاوياني د افغانستان د خلک ديموکراتيک ګوند د سياسي بيرو او دارالانشا غړی پاتې شوی. د نظارشورا، اسلامي جمعيت او د هزاره ډلو سره د شمالټلوالې په جوړولو کې يې لويلاس او د ډاکټر نجيب پر ضد يې په کودتا کې ګډون درلود. نوموړي له ډېر پخوا په ګوند کې دننه د نظار شورا او جمعيت لپاره کار کاوه او په شمال کې د سيکټاريستي فعاليتونو د سر سړی شمېرل کېدای شي. څو موده چوپ وو او اوس يې بيا په فعاليت پيل کړی چې همغه سيکټاريستي او ايراني اجندا مخې ته بيايي . پای

اخځونه :

ـ خاوران بريښناپاڼه ـ د هېواد اساسي قانون ـ زما خپل يادښتونه ـ زما خپل يادښتونه

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ